د ستر مفسر او محدث

# ملاعلي قاري هروي (رح)

## علمي او معنوي مقام

د علمي-خېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه

۱۴۰۳ لمریز کال



د ستر مفسر او محدث ملاعلي قاري هروي (رح) علمي او معنوي مقام

د علمي-خېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه

# The Scholarly and Spiritual Status of the Great Exegate and Hadith Scholar, Mulla Ali Qari Haravi

(may Allah have mercy on him).



2026

ISBN 978-9936-672-05-5

د افغانستان اسلامي امارت

د علومو اکاډمي

د اسلامي علومو معاونیت

د تفسیر او حدیث مرکز

# د ستر مفسر او محدث ملاعلي قاري هروي (رحمه الله) علمي او معنوي مقام

## د علمي ـ څېړنیز سیمینار د مقالو ټولګه

۱۴۰۳ لمریزکال

**کتنپلاوي:**

مولوي عرفان الله عرفان

څېړنپوه نورالحق عزيزي

څېړنپوه عبدالولي بصيرت

څېړنپوه ويس الدين نوري

څېړنپوه سيد حبيب شاکر

مفتي علامه عبدالستار محمدي

مولوي امرالله وهاج

څېړنوال عبدالرحمن حامد

څېړنوال دکتور عزيزگل صافي

څېړندوی دکتور عبدالحق حبيبي

**د کتاب ځانګړني:**

---


**د کتاب نوم:** د ستر مفسر او محدث ملاعلي قاري هروي(رحمه الله) علمي او معنوي مقام

**ليکوال:** يو شمېر پوهان

**ايډيټور او مهتمم:** څېړندوی عزيزالرحمن رحماني

**د سيمينار کال:** ۱۴۰۳ هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۴۰۴ل / ۱۴۴۷ هـ ق

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

**آدرس:** د افغانستان علومو اکاډمي، شاه بوبوجان کوڅه ، شهرنو، کابل

**د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست د اړيکي شميره : ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)**

**د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست ايميل:** info@asa.gov.af

**د چاپ ځای:** ستارۀ همت مطبعه، کابل – افغانستان

**ISBN: ۵ – ۰۵ – ۶۷۲– ۹۹۳۶– ۹۷۸**


---


**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**


---

بسم الله الرحمن الرحيم

الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْصَّلَوةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ
وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**

د مرکز یادښت.............................................................................أ
د رئیس الوزرا پیغام ......................................................................ج
د افغانستان اسلامي امارت د علوموااکاډمۍ د عمومي رئیس د وینا متن ......................... ه
سریزه...........................................................................................١
زندگی نامۀ علامه ملا علی قاری هروی رحمه الله / سرمحقق محمد کبیر مشفق ........................٤
د ملا علي قاري رحمه الله اجتماعي مقام / څېړندوی محمد کریم ادیب ..........................٢٨
میراث علمی علامه ملا علی قاری در محوری‌ترین علوم شریعت (چهار دانش: عقیده، تفسیر، حدیث وفقه اسلامی) / پوهاند دکتور فضل الرحمن فقهی.......................................٦٢
مقام و منزلت ملا علی قاری در میان مفسرین/ محقق مولوي دکتور عبدالحق حبیبي ...........٨٨
د ملا علي قاري رحمه الله د تفسیر (أنوار القرآن وأسرار الفرقان) منهج او ځانګړتیاوې / څېړنوال دکتور عزیز ګل صافی .........................................................١٠٥
په قرآوو کې د ملا علي قاري مقام او منزلت / څېړندوی سمیع الله صاحبزاده ..................١٢٩
ملا علی قاری؛ مصلح و مجدد قرن یازده / سرمحقق عبدالرحمن حکمیزاد ........................١٤٢
د مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح منهج، ځانګړتیا او په اړه.... / څېړنوال محمد امان رسولي .......................................................................................١٥٨
جایگاه علمی و معنوی ملا علي قاري رحمه الله / استاد زین العابدین کوشان ...................١٧٢
د ملا علي القاري رحمه الله حدیثي خدمتونه / پوهندوی حافظ روح الله نجم ...................١٨١
په ( الاسرار المرفوعة.....) کې علي رضي الله عنه د فضیلت پر مرویاتو د ملا علي قاري رحمه الله کره کتنه / څېړندوی صالح محمد فرید .................................................١٩٨
جایگاه ملا علی قاری رحمه الله در میان محدثین / سرمحقق ویس الدین نوری ....................٢٢٢
د ملا علي قاري آثار او تألیفات / څېړنیار رفیع الله نور ...........................................٢٣٩
د ملا علي قاري(رحمه الله) ټولنیز ژوند / څېړندوی اسدالله میاخیل ..............................٢٧٠
د ستر مفسر او محدث ملاعلي قاري هروي رحمه الله علمي او معنوي مقام د سیمینار پریکړه لیک ........................................................................................٢٨٦

## د مرکز یادښت

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْصَّلَوٰةُ وَالْسَّلٰامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

له شک پرته چې د ټولنو پرمختګ، هوساینه او سوکالي د هغې ټولنې د علماؤ په لارښوونو کې نغښتی دی، هغه ټولنې نیکمرغه او بختورې دي چې خپلو علماؤ ته ارزښت ورکوي، د علماؤ قدرداني کوي، د علماؤ تابعداري کوي او د ژوند په ټولو چارو کې د خپلو علماؤ په پله باندې پل ږدي.

له نیکمرغه زمونږ ګران هېواد افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د اسلام له پیله رانیولې تر نني عصره پورې له داسې نوموتو علماؤ څخه برخمن دی، چې نه یوازې افغانستان بلکې اسلامي نړۍ ورباندې ویاړي، د داسې ویاړلي علماؤ یادونه نه یوازې د علماؤ حق دی بلکې زمونږ مکلفیت دی؛ څو د هغوی د کړو وړو یادونه د مسلمانانو په ځانګړې توګه د افغانانو له پاره د لارې مشال و ګرځي.

د همدې موخې د تحقق له پاره د افغانستان د علومو اکاډمي د مشرتابه په لارښوونه او د اسلامي علومو د معاونیت د تفسیر او حدیث مرکز په نوښت او زیار سره ( د ستر مفسر او محدث ملاعلي قاري هروي رحمه الله علمي او معنوي مقام) تر سرلیک لاندې علمي – څېړنیز سیمینار د علامه احمد علي کهزاد د سیمینارونو او کنفرانسونو په تالار کې د چهارشنبې په ورځ ۲۹ / ۳/ ١٤٤٦هـ ق= ۱۱ /۷/ ۱۴۰۳هـ ش نېټه دایر شو.

په سیمینار کې د مقالو د ارزونې په موخه یو علمي کمیسیون ټاکل شوی ؤ چې مقالې به د هغوی له نظر نه وروسته د لوست او نشر له پاره وړ ګڼل کېږي دا دی د دې سیمینار ۱۴مقالې په یوه ټولګه کې چاپ او د مینه والو په واک کې ورکول کېږي.

د علامه ملا علي قاري هروي (۹۳۰- ۱۰۱۴هـ ق)ژوند دېته اړتیا درلوده چې پر ده باندې سیمینارونه و نیول شي، دا دی له نیکه مرغه د ډېرو پوهانو او علمي حلقو غوښتنه او تلوسه پوره شوه لله الحمد سیمینار په بریالیتوب سره دایر شو د ملاعلي قاري رحمه الله د ژوند مختلف تت اړخونه د لیکوالانو د مقالو په ضمن کې روښانه

شول خو اوس د یاد سیمینار ټولګه د چاپ په درشل کې ده، چې ډېر زر به د علامه ملا علي قاري رحمه الله د ژوند د حالاتو تړي خړوب شي تازه او تاند معلومات به د نوموړي په هکله د هېواد والو سره شریک شي.

علامه ملا علي قاري رحمه الله په ابو الحسن او نور الدین هروي او مکي سره یاد شوی دی؛ ځکه نوموړی په هرات ښار کې زیږیدلی دی او په مکه مکرمه کې اوسیدلی او هلته په ۱۰۱۴هـ ق کال د شوال په میاشت کې وفات او د جنت معلا په هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی. رحمه الله

د نوموړي استاذان په هرات او مکه مکرمه کې ډېر زیات ؤ چې ده تري فیض حاصل کړی دی، او ده هم اسلامي کتابتون زیات غني کړی دی چې مهم کتابونه په لاندې ډول د یادولو وړ دي:

۱- تفسیر الملا علي القاري المسمیٰ أنوار القرآن و أسرار الفرقان الجامع بین أقوال علماء الأعیان و أحوال الأولیاء ذوي العرفان، پنځه ټوکه چې محمد علي بیضون دار الکتب العلمیة، بیروت لبنان چاپ کړی دی.

۲- مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، چې ملا علي قاري رحمه الله په ۱۰ټوکونو کې شرحه کړی دی.

۳- مجموع رسائل العلامة الملاعلي القاري، چې ۸۰ مختلفې رسالې د دار اللباب للدراسات و تحقیق التراث له خوا چاپ شوي دی.

نو د تفسیر او حدیث مرکز علمي غړي ښاغلي څېړندوی عزیز الرحمن رحماني څخه مننه کوو چې د دې وزین سیمینار د مقالو د ټولګې د اهتمام او چاپ مسئولیت یې ومانه مقالې یې راټولې،ترتیب او د چاپ له پاره یې برابرې کړې؛ ترڅو وکولای شو چې د یاد سیمینار معلومات او لاسته راوړنې په چاپي بڼه له درنو هېوادوالو او د علم له مینه والو سره شریکې شي.

په درنښت

مولوي عرفان الله عرفان

د تفسیر او حدیث مرکز رئیس

# د هیواد د نومیالي محدث او فقیه عالم علامه ملاعلي قاري هروي رحمه الله په اړه سیمینار ته د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزرأ پیغام

بسم الله الرحمن الرحيم

الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْصَّلَوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ. اما بعد:

علامه ملاعلي قاري هروي رحمه الله زمونږ د هیواد ستر دیني عالم، محدث، فقیه او علمي شخصیت دی، د نوموړي د پیدایښت کره نېټه څرګنده نه ده، خو ځینو تاریخ لیکوونکو د نوموړي د پیدایښت کال (۹۳۰) هجري قمري اټکل کړی دی. علامه ملاعلي قاري رحمه الله د هرات ښار کې زېږېدلی او د هرات ولایت له سترو علماء کرامو او مشائخو څخه یې علمي استفاده کړې.

وروسته یې د لا زیات علم د حاصلولو په خاطر مکې مکرمې ته سفر وکړ او هلته یې له شیخ شِهاب الدین ابوالعباس، احمدبن محمدابن علي ابن الهیثمي الشافعي، او د کنزالعمال له مؤلف شیخ علاءالدین علي بن حسام الدین، مشهور په المتقي الهندي، او له لوی عالم او شیخ محمدسعید بن خواجه الحنفي الخراساني چې په (میرکلان) مشهور ؤ او ځینو نورو استادانو څخه یې زده کړې کړي دي.

علامه ملاعلي قاري هروي رحمه الله ډېر زیات تالیفات او آثار لري چې د تالیفاتو شمېر یې تر دوه نیم سوه آثارو زیات ښودل شوی دی چې مشهور یې مرقاة المفاتیح شرح المشکاة المصابیح، فتح باب العنایة بشرح النقایة، شرح فقه الاکبر، مناسک الملاعلي القاري، شرح مسند الامام أبي حنیفة رحمه الله، الأثمار الجنیة في تراجم الحنفیة، الجمالین علی الجلالین، زبدة الشمائل و عمدة الوسائل او داسې نور دي، چې دا هر کتاب پر خپل ځای ستر علمي او معنوي ارزښت لري او د اسلامي علمي ذخیرې قیمتي شتمنۍ ګڼل کیږي.

علامه ملاعلي قاري هروي رحمه الله له با برکته علمي ژوند وروسته د (۱۰۱۴) هـ ق کال د شوال میاشت کې په مکه مکرمه کې وفات او په جنت المعلی هدیره کې خاورو ته سپارل شوی دی. رحمه الله رحمة واسعة.

د حدیثو او فقهي علومو دغه سرلاری زمونږ د هیواد د زرین تاریخ له رڼو او

ځرګندو بابونو څخه دی، ټول اسلامي امت بیا په تېره افغانـان د نومـوړي د احسـان پوروړي دي.

له نېکمرغه د افغانسـتان د علوماکـاډمۍ د اسـلامي علومـو معاونیـت اړونـد د تفسیر او حدیث مرکز د دغه لوی محدث او فقیه عالم او د حدیثو او فقهـې د علـم د سرلاري د علمی او معنوي مقام د یاد په پار د یو علمي او څېړنیز سیمینار تابیا کړې الله جل جلاله دې د دغه سیمینار سمبالوونکو ته ډېر اجـر او ثـواب ورکـړي، چـې د دغې مهمې او ارزښتمنې موضوع په مناسبت یې دغه غونډه را بللې ده، زه هیله لـرم چې د علامه ملاعلي قاري هروي رحمه الله په باب به درانه علماء، څېړونکي، پوهان ادیبان او ویناوال هر اړخیزې مفصلې او ګټورې خـبرې وکـړي، او د حـدیثو او فقهـې علم د دغه سرلاري د روح د خوښۍ وسیله به وګرځي.

په پای کې باید یادونه وکړو چې د پخوانیو علماء کرامو، مشـائخو او د ټـولنې د علمي او معنوي رهنمایانو د یاد او تاریخ را ژوندي کول او نوي نسل ته معرفي کـول هغه مهم ضرورت دی چې باید د هیواد ټول علمـي او فرهنګـي بنسـټونه ورتـه توجـه وکړي، تر څو مو ځوان نسل د خپلو اسلافو له تاریخ او کارنامو خبر او د هغوی نقـش قدم د خپل ژوند لپاره مسیر وټاکي. په همدې هیله

الحاج ملامحمدحسن اخند

د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء

## د ستر مفسر او محدث ملاعلي قاري هروي رحمه الله سيمينار ته د افغانستان اسلامي امارت د علومواکاډمۍ د عمومي رئیس د وینا متن

بسم الله الرحمن الرحيم

الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْصَّلَوةُ وَالسَّلَامُ عَلَى سَيِّدِالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ. اما بعد:

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم. ﴿قُلْ هَلْ يَسْتَوِى ٱلَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ ۗ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُوْلُواْ ٱلْأَلْبَٰبِ﴾ [الزمر: ۹] صدق الله العظيم.

قدرمنو علماء کرامو، پوهانو، استاذانو، مشرانو او د مجلس ټولو درنو ګډونوالو!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!

ټولو ته دې درانه او پرتمين مجلس ته ښه راغلاست او هر کلی وايم هرکله راشئ، الله جل جلاله دې تاسو ټولو ته اجرونه او عوضونه درکړي.

د امت د اکابرو او مشرانو تذکير او يادونه چې په امت کې ځلانده څېرې دي او د اسلامي امت لپاره يې نه هېريدونکي خدمتونه کړي دي، د داسې علماوو او نېکانو ياد او تذکير د عبرت سبب ګرځي، لکه څنګه چې مونږ او تاسو دې داسې اشخاصو خلف يادېږو د دوی يادونه په مونږ او تاسو کې همت پيدا کوي د غفلت له خوب څخه مو را ويښوي او نېکو کارونو ته مو هڅوي، ترديې چې هر يو کوشش کوي له ځان څخه داسې يو ستر شخصيت جوړ کړي چې له خپل ځان څخه يې وروسته داسې نيک کردار کړه او وړه پاتې شي چې را تلونکي نسلونه يې په نيکۍ ياد کړي، تر دې چې مونږ په همدې مامور هم يو چې په نيکۍ کې يو له بل څخه مخکې والی او سبقت وکړو لکه څنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي ﴿فَٱسْتَبِقُواْ ٱلْخَيْرَٰتِ﴾ [البقرة: ۱۴۸] يعنې په نېکو کارونو کې يو له بل څخه ځانونه مخکې کړئ.

زمونږ د امت اسلافو ډېر زيات خدمتونه کړي دي، چې مونږ ټول يې د خدمتونو احسانمند او پوروړي يو، دا ستر علمي او معنوي شخصيت چې په ياد يې

مونږ نن ورځ را ټول شوي یو، د اسلامي امت د زیات شمېر علماوو استاذ دی، حتی تردې چې کوم کسان یې کتابونه مطالعه کوي د هغوی لپاره هم استاذ دی، تردې چې عرب او عجم علماء یې ټول د استاذۍ ویاړ لري، د دې ستر شخصیت په اړه د هغه عصر او زمانې علماء په یوه خوله ټول دا وایي چې نوموړی د خپل عصر تر ټولو ستر عالم او نابغه شخصیت ؤ، په دین کې الله جل جلاله ورته ځانګړې پوهه او مهارت ورکړی ؤ، که څه هم نوموړي په مکه مکرمه کې ژوند کاوه خو اصلاً د افغانستان د هرات ولایت اوسېدنکی او مکې مکرمې ته یې د دیني علم د ترلاسه کولو په خاطر هجرت کړی ؤ، چې هلته یې د علم د زده کړې تر څنګ په سلګونو شاګردان روزلي دي، که هر څومره یې د علمي او معنوي شخصیت په اړه خبرې وکړو بیا یې هم مقام لکه څنګه چې ښایي نشو بیانولای، نو په همدې اساس خپلې خبرې په همدې ځای پای ته رسوم، ځکه د مجلس ګډونوالو علماوو، پوهانو او لیکوالانو به د نوموړي د شخصیت، ژوند او کارنامو په هکله زیات شمېر او مختلف عنوانه مقالې لیکلي وي، په آخر کې د دې مجلس ټولو دائرونکو ته له الله جل جلاله څخه د لوی او ستر اجر غوښتونکی یم.

والسلام

شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود

د علوماکاډمۍ عمومي رئیس

# سريزه

الْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالْصَّلَوةُ وَالسَّلامُ عَلَى سَيِّدِالْمُرْسَلِينَ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

د علمي تاريخ د پاڼو له مطالعې سره دا حقيقت را ښکاره کيږي چې د اسلامي امت فکري، فقهي، حديثي او روحاني ميراث د هغو نابغه علماوو له برکته ژوندی پاتې دی، چې د علم او عمل، تحقيق او تقوا، فقه او تصوف ترمنځ يې داسې توازن را منځته کړی دی، چې د امت د فکري شتمنۍ بنسټونه يې پرې ټينګ کړي دي، له دغو سترو علماوو څخه يو هم علامه ملاعلي قاري هروي رحمه الله دی، چې د اسلامي علومو په بېلابېلو برخو کې يې بېسارې علمي پانګې پرېيښې دي، او د ژور ديني بصيرت او اعتدالي منهج له برکته يې اسلامي نړۍ ته نوې ساه او روح ورکړې دی.

ملاعلي قاري هروي رحمه الله چې اصلي نوم يې علي او لقب يې نورالدين دی د سلطان محمدالهروي زوی ؤ، د هرات ولايت له علمي او روحاني فضا څخه را ټوکېدلی دی، خو د خپل علمي او معنوي سفر زياته برخه يې د حجاز په مقدسه او سپېڅلې خاوره کې تېره کړې ده، هغه په داسې دور کې ژوند کاوه چې د اسلامي نړۍ تحولات او مذهبي بحثونه د پام وړ بدلونونو سره مخامخ ؤ، نوموړي نه يوازې دا چې په حديث، تفسير، فقه، عقائدو او قرائت کې ژوره پوهه او مهارت درلوده؛ بلکې د علمي اختلافاتو پرمهال يې د اعتدال، حکمت او تحقيق له لارې داسې علمي دريځ غوره کړی ؤ، چې نن هم د علماوو او څېړونکو د پام وړ دی، نوموړي ته د (قاري) لقب يوازې د قرائت له کبله نه ؤ ورکړل شوی بلکې دا لقب د هغه د قرآني فصاحت، تجويدي تخصص او د علمي احاطې يوه شرافت نامه وه، د هغه تفسيري نظريات له ژور فکر او د متن په دقيق فهم باندې له پوهېدو څخه برخمن دي،او همدارنګه په احاديثو کې د هغه تر ټولو مشهور اثر مرقاة المفاتيح يوه تفصيلي او تحقيقي شرحه ده، چې د نبوي احاديثو د مفاهيمو د تشريح او استنباط يوه لوړه او

عالي ببلگه گڼل کیږي.

نوموړي د علمي میراث د تدوین پر مهال یوازې یو روایتي نه بلکې تحلیلي، تنقیدي، او تقابلي میتودونه هم کارولي دي، چې دا کار د هغه د علمي رسوخ ښکاره ثبوت دی.

د یادولو وړ دی چې د هغه روحاني اړخ د نوموړي له زهد، اخلاص، او علم الاحوال سره ژور تړاو او اړیکه لري، هغه د تصوف د حقیقي روح پلوی ؤ، نه د رسمي شکل.

د ملاعلي قاری هروي رحمه الله علمي او فکري میراث او آثار نه یوازې د حنفي مذهب فقهي مکتب پیاوړی کړی دی؛ بلکې د اسلامي امت د مختلفو طبقو ترمنځ یې د تفاهم رواداری او علمي ادب بنسټونه هم ټینګ کړي دي، ملاعلي قاري هروي رحمه الله د اسلامي امت لپاره یو جامع او بې مثاله شخصیت ؤ، چې علم، عرفان او عمل یې سره یو ځای کړي ؤ، د نوموړي علمي خدمتونو او معنوي مقام نه یوازې د خپل عصر اړتیاوې پوره کړې؛ بلکې د را تلونکو نسلونو لپاره هم د هدایت بل مشالونه گرځیدلي دي چې اکثره علمي آثار یې نن ورځ هم د نړۍ په مختلفو اسلامي هیوادونو کې لکه افغانستان، پاکستان، ترکیه او عربي نړۍ کې تدریس او د معتبرو دیني ماخذونو په توګه ورڅخه استفاده کیږي.

په ډېرې خوښۍ او ویاړ سره د یادونې وړ دی چې په هیواد کې د وروستي تحول په راتګ او د اسلامي امارت په حاکمیت سره علم او علماوو ته ځانګړې پاملرنه کیږي، د علماوو د قدردانۍ په موخه څېړنیز سیمیناورنه او کنفرانسونه دائریږي، چې په دې سره د علماوو تفسیري، حدیثي، فقهي او تصوقي اړخ را برسره کیږي، په دې لړ کې د افغانستان د علوماکاډمي مشرتابه د خاصې پاملرنې په اساس د ګران هیواد د نوموتي علمي او روحاني شخصیت ملاعلي قاري هروي رحمه الله د ژوند او کارنامو په اړه څېړنیز سیمینار جوړ شو، چې په دې سیمینار کې د څېړونکو له خوا د نوموړي د شخصیت په اړه مختلفې مقالې لیکل شوې وې ولوستل شوې، چې په

دې مقالو کې يې د ملاعلي قاري هروي رحمه الله د علمي، فکري، او روحاني مقام بېلابېل اړخونه په تحقیقي لید سره څېړلي دي.

څېړونکي په دې باور دي چې د ملاعلي قاري هروي رحمه الله علمي او روحاني میراث لاهم د اسلامي امت د فکري بیدارۍ لپاره الهام بښونکی ارزښت لري، او پرې لا زیات ژور علمي تحقیق د اسلامي امت تمدن د پایداره احیا لپاره یو مهم گام گڼل کېږي.

د یادولو وړ دی چې د ملاعلي قاري هروي رحمه الله د علمي او معنوي مقام او شخصیت د ښه پېژندنې لپاره د څېړونکو له خوا زیات شمېر مقالې لیکل شوې وې چې له جملې څخه يې څوارلس عنوانونه معتبرې او غوره مقالې چې د ملاعلي قاري رحمه الله د ژوند بېلابېل اړخونه يې را سپړلي دي او په بېلابېلو برخو کې يې ځينې آثار ارزولي دي د کتنپلاوي له دقیقې ارزونې څخه وروسته د نشر وړ گڼل شوي، او د اسلامي علومو د معاونیت د هدایت سره سم دا دی د چاپ په گاڼه سمبال او د درنو لوستونکو په واک کې به ور کړل شي؛ تر څو درانه هیوادوال او په ځانگړې توگه د علم مینه وال د دې ستر علمي او معنوي شخصیت له کارنامو څخه خبر او له علمي آثارو څخه يې په ښه توگه استفاده او گټه پورته کړي.

والسلام

څېړندوی عزیزالرحمن « رحماني»

د تفسیر او حدیث مرکز علمي غړی